د چارو اداره

پنځلسمه ګڼه | د غبرګولي میاشت | د پیل کال ۱۴۰۳-۱۴۴۶



# اداره امور

- هېواد کې د هستوګنیزو ودانیو جوړولو بهیر د چټکتیا په موخه ناسته ترسره شوه
- نشستی به منظور تطبیق مصوبه شماره ۱۱ شورای وزیران در مورد گمرک‌های ولایت‌های هرات، فراه و نیمروز برگزار شد
- د چارو اداري لوی رئیس؛ تر راتلونکو څو کلونو پورې به هېواد د سمنټو برخه کې پر ځان بسیا شي
- رئیس عمومی اداره امور در نشست تدوین پلان ستراتیژیک پوهنتون پولی تخنیک کابل اشتراک کرد


بسم الله الرحمن الرحيم

## د چارو اداري لوی ریاست میاشتنۍ مجله

**د امتیاز خاوند:** د چارو اداري لوی ریاست

**مسؤول مدیر:** مفتي احسان الله بدر

**کتنپلاوی:** مفتي نجیب الله حکیمي، محمد قاسم طوطاخېل،
ډاکټر سیف الله خالد، ضیاء الحق رفاه

**خبریالان:** محمد شعیب رحیمي، محمد الیاس احمدي،
فریدالله عزام، عنایت الله ابراهیم خېل

**انځورګر:** محمد عمر علیزی

**ډیزاینران:** خان وطنیار، سیف الرحمن وردګ



www.aop.gov.af

media.aop.afg@gmail.com

مرمرینه ماڼۍ، کابل افغانستان

0202143351

# هېواد کې د هستوګنیزو ودانیو جوړولو بهیر

## د چټکتیا په موخه ناسته ترسره شوه

د چارو ادارې لوی ریاست د غونډو په تالار کې د ملي اقتصاد او زېربناوو رئیس مفتي شمس الرحمن په مشرۍ، کابل ښاروالۍ، ښاروالیو چارو سمون عمومي ریاست او د اراضۍ لوی ریاست د استازو په ګډون د ریاست الوزراء عالي مقام د حکم عملي کېدو په موخه د ممنوعه ساحو د تثبیت او خلکو ته د عامه پوهاوي پر څرنګوالي غونډه ترسره شوه.

۱۴۴۷هـ.ق، ذوالقعدې ځلورمه/ ۱۴۰۵هـ.ش، غوايي لومړۍ.

ګډونوالو د ریاست الوزراء ۱/۱۱/۱۴۴۷ نېټې (۷۳۴۵) ګڼې حکم د دویم بند عملي کېدو په اړه خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ چې په یوه میاشت کې دې ښارونو او شاوخوا سیمو کې د پلانونو مطابق ممنوعه ساحې تثبیت او تعین شي.

همدارنګه د عامه پوهاوي پر څرنګوالي هم بحث وشو؛ ترڅو هېوادوال د هغو سیمو په اړه خبر شي چې هلته د هستوګنیزو ودانیو جوړول منع دي. د ښاروالیو مسؤولینو وویل چې د یاد حکم د ښه تطبیق لپاره یې خپلو ولایتي او د ولسوالیو ښاروالیو او د کابل ښار ناحیو کې تخنیکي ټیمونه ګمارلي؛ ترڅو ممنوعه ساحې په دقیق ډول وټاکي او د پاتې بندونو د عملي کېدو لپاره زمینه برابره کړي.

په پای کې پرېکړه وشوه چې د چارو ادارې لوی ریاست په مشرۍ به یوه ګډه کمېټه هره اوونۍ ناسته کوي او اړوندې ادارې به د خپل پرمختګ راپورونه شریکوي؛ ترڅو د چارو بهیر وڅارل شي او ستونزو ته پر وخت حل لارې وموندل شي.

یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوې وه؛ د خیر په دعاء پای ته ورسېده.






# در سه منطقه تفریحی
## مساجد جدید اعمار و به بهره‌برداری رسید

ریاست تعمیرات، حفظ و مراقبت اداره امور سه باب مسجد را در مناطق تفریحی بالاباغ پغمان با مساحت ۱۶۵ متر مربع، در منطقه تفریحی قصر تپه پغمان با مساحت ۱۳۵ متر مربع و تپه کلوله پشته شهرنو با مساحت ۸۰ متر مربع اعمار کرد.

سه‌شنبه، چهارم ذوالقعده ۱۴۴۷ هـ.ق / اول ثور ۱۴۰۵ هـ.ش

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور با مولوی محمد یوسف سعد، رئیس تعمیرات، حفظ و مراقبت و تعدادی از مسؤولین دیگر به مناسبت افتتاح این مساجد از این مناطق بازدید کردند.

رئیس عمومی اداره امور در سخنان خویش گفت که این مناطق از سال‌ها پیش مورد بازدید گردشگران داخلی و خارجی بود؛ اما مکان مشخص و مناسبی برای نماز و عبادت وجود نداشت.

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور، افزود: «نماز برای مسلمانان یک فریضه اساسی است و امکانات برای آن در همه جا باید فراهم باشد. در گذشته این مناطق از امکانات مختلفی برخوردار بود، اما نبود مسجد یک خلأ مهم بود. اکنون به فضل الله متعال و تلاش مسئوولین، این نیاز برطرف شد تا مردم بتوانند نمازهای خود را در زمان معین آن اداء نمایند.»

این مراسم با تلاوت قرآن کریم آغاز و دعای خیر پایان یافت.




# نشستی به منظور تطبیق مصوبه شماره ۱۱ شورای وزیران در مورد گمرک‌های ولایت‌های هرات، فراه و نیمروز برگزار شد

نشستی براساس مصوبه شماره ۱۱ شورای وزیران پیرامون تطبیق پلان‌های عملیاتی ارگان‌های امارتی در رابطه به گمرک‌های ولایت‌های هرات، فراه و نیمروز به ریاست مولوی محمد صادق عاکف، رئیس انسجام امور شواری وزیران و کمیسیون‌های عالی اداره امور با حضور نمایندگان وزارت‌های مالیه، امور داخله، شهرسازی و مسکن، ترانسپورت، فواید عامه، مخابرات، ریاست های عمومی انسجام امور شاروالی‌ها و ریاست عمومی برشنا در تالار جلسات اداره امور برگزار شد.

سه‌شنبه، چهارم ذوالقعده ۱٤٤۷ هـ.ق / اول ثور ۱٤۰۵ هـ.ش

در آغاز نشست، رئیس انسجام امور شورای وزیران و کمیسیون‌های عالی اداره امور فیصله‌های جلسه قبلی را با اشتراک‌کنندگان شریک ساخت و از نمایندگان خواست که تمام ادارات مربوط گزارش پیشرفت‌های خویش را ارائه کند.

سپس نمایندگان وزارت‌ها و ادارات ذیربط گزارش تفصیلی ادارات خویش را پیرامون اقدامات انجام شده و پیشرفت‌ها در گمرک‌های هرات، فراه و نیمروز ارائه کردند و خواهان حل مشکلات موجود در روند پیشرفت کار شدند.

در پایان، رئیس انسجام امور شورای وزیران و کمیسیون‌های عالی اداره امور از پیشرفت‌های حاصل شده ابراز خرسندی نمود و ضمن اطمینان از حل مشکلات موجود، از وزارت‌ها و ادارات مربوطه خواست تا هماهنگی بهتری داشته باشند و بر تسریع روند کار تأکید کرد.

این جلسه با تلاوت قرآن‌کریم آغاز و دعای خیر پایان یافت.



# په امارتي او خصوصي روغتونونو کې د غوره

## روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو

## په تړاو د همغږۍ غونډه ترسره شوه

د چارو اداري لوی ریاست د فرهنګي او ټولنیزو چارو رئیس مفتي محمد ادریس انوري په مشرۍ د عامې روغتیا وزارت له استازو سره په امارتي او خصوصي روغتونونو کې هېوادوالو ته د غوره روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو په تړاو د همغږۍ غونډه ترسره شوه.
شنبه، ۱۴۴۷هـ.ق ذوالقعدې اتمه/ ۱۴۰۵ غوايي پنځمه.
د غونډې پیل کې د چارو اداري لوی ریاست د فرهنګي او ټولنیزو چارو مرستیال نورمحمد حیدري ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ زیاته کړه چې د چارو اداري لوی ریاست مسؤولیت لري؛ ترڅو د هېوادوالو ستونزې واوري او د حل په موخه یې له اړوندو مسؤولینو سره شریکې کړي.
وروسته د فرهنګي او ټولنیزو چارو ریاست د عامې روغتیا سکټور کارپوه د عامې روغتیا وزارت له استازو سره په امارتي روغتونونو کې د یو شمېر ستونزو یادونه وکړه چې پکې د طبي وسایلو کمښت، د بیړنیو روغتیایي توکو نشتون، د متخصصو ډاکټرانو کموالی، د الکترونیکي نسخو نه کارول او له ناروغانو سره د مناسب چلند نشتوالی شامل وو.
د عامې روغتیا وزارت استازو د یادو ستونزو د حل په اړه ډاډ ورکړ او ویې ویل چې تېر شل کاله د روغتیا برخه کې د پام وړ کار نه دی شوی، خو د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته روغتونونو او روغتیایي چوپړتیاو کې ګڼ اصلاحات راغلي، چې اوس د ډېرو هغو ناروغیو درملنه د هېواد دننه کېږي د کوم لپاره به چې خلک بهرنیو هېوادونو ته تلل.
همدارنګه د فرهنګي او ټولنیزو چارو رئیس وویل؛ زموږ ډېری هیوادوال له اقتصادي پلوه کمزوري دي، نشي کولای په خصوصي روغتونونو کې د خپلو ناروغانو درملنه وکړي؛ نو ځکه باید په امارتي روغتونونو کې روغتیایي خدمتونه لا ښه، د طبي وسایلو امکانات زیات او د متخصصو ډاکټرانو فعالیتونه پیاوړي شي. دغه راز یې د عامې روغتیا وزارت د استازو ستونزې واورېدې او د حل ډاډ یې ورکړ.
یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوې وه، د خیر دعاء سره پای ته ورسېده.

# شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور

## از مرکز تجارتی مزار هوتل بازدید کرد

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور، همراه با مفتی شمس الرحمن، رئیس اقتصاد ملی و زیربناها و مفتی عبدالواحد عثمانی رئیس پالیسی و استراتژی این اداره از مرکز تجارتی مزار هوتل بازدید کرد.

شنبه، هشتم ذوالقعده ۱٤٤۷ هـ.ق / پنجم ثور ۱٤۰۵ هـ.ش

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور و هیئت همراهش در ولایت بلخ، از مرکز تجارتی مزار هوتل که مربوط به ریاست عمومی شرکت‌های امارتی است بازدید کردند.

رئیس عمومی اداره امور هنگام بازدید از امور این مرکز تجارتی، با ابراز خرسندی از اینکه تاجران کشور در داخل افغانستان سرمایه‌گذاری به سطح بالا کرده اند، قدر دانی نمود.

قابل ذکر است که در جریان این سفر، از پروژه‌های دیگر نیز بازدید به عمل خواهد آمد.





# د سیاحتي او تحصیلي شرکتونو

## ستونزو ته د رسېدنې په موخه

## د همغږۍ غونډه ترسره شوه

د چارو اداري لوی ریاست د غونډو په تالار کې د فرهنګي او ټولنيزو چارو رئيس مفتي محمد ادريس انوري په مشرۍ د مرکز او ولايتونو د سیاحتي او تحصیلي شرکتونو له استازو سره د ستونزو د حل په موخه د همغږۍ غونډه ترسره شوه.

دوشنبه، ۱٤٤۷هـ.ق ذوالقعدې لسمه/۱٤۰۵هـ.ش غوايي اوومه.

د غونډې په پیل کې د فرهنګي او ټولنيزو چارو مرستيال ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وويل چې فرهنګي او ټولنيزو چارو رياست د ټولنې مختلفو اقشارو سره تر ۱۵۰ زياتې غونډې کړې چې د خلکو ډېرو غوښتنو او ستونزو ته په کې رسېدنه شوې ده.

ورپسې د سیاحتي او تحصيلي شرکتونو استازو په خپلو خبرو کې وويل چې تېر کال شاوخوا ۱۸۵ زره ګرځندويان افغانستان ته راغلي او دا مهال نږدې ٦۸۰۰ شرکتونه په دې برخو کې فعاليت لري. هغوی زياته کړه چې د سیاحت برخه کې لا هم یو شمېر مهمې ستونزې شته، چې په کې د ډېرو هېوادونو د قونسلګريو د تړل کېدو له امله د ويزو ترلاسه کول او د شرکتونو لپاره د يو ځانګړي سيستم نشتون د يادونې وړ دي.

په پای کې د فرهنګي او ټولنيزو چارو رئيس د ګډونوالو ستونزو له اوريدو وروسته ژمنه وکړه چې د حل په موخه به يې له اړوندو ادارو سره شريکې کړي.

ياده غونډه چې د قرآن کريم په تلاوت پيل شوې وه، د خير دعا سره پای ته ورسېده.

# رئیس عمومی اداره امور: طی چند سال کشور

## بخش سمنت خودکفا خواهد شد

جلسه افتتاح کار عملی فابریکه سمنت یتیم‌تاق ولایت جوزجان با حضور شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور، ملا عبدالغنی برادر معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، ملا هدایت‌الله بدری وزیر معادن و پترولیم و والیان زون شمال کشور برگزار شد.

دوشنبه، دهم ذوالقعده ۱٤٤٧ هـ.ق/ هفتم ۱٤۰۵ هـ.ش.

در این جلسه رئیس عمومی اداره امور در سخنان خود گفت: فابریکه‌هایی که به دلیل جنگ های داخلی و بی‌توجهی برخی حکومت‌ها از کار افتاده بودند، پس از روی کار آمدن امارت اسلامی بازسازی شده‌اند؛ به کیفیت تولید آن‌ها توجه شده و اکنون در امور زیربنایی، ساختمانی و انکشافی کشور مورد استفاده قرار می‌گیرند.

شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور، این پیشرفت‌ها و دست‌آوردها را نتیجه هماهنگی سالم میان مسئولین امارت اسلامی، رهبری واحد و حضور سرمایه‌گذاران متعهد و دلسوز در مسیر آبادی کشور دانست که این روند رشد اقتصادی را تقویت خواهد کرد.

رئیس عمومی اداره امور همچنان به فابریکه‌های سمنت قندهار و جبل‌السراج اشاره کرد که کارهای آن‌ها عملاً در جریان است و بزودی به بهره‌برداری خواهند رسید و با این اقدامات، کشور طی چند سال آینده در بخش سمنت به خودکفایی خواهد رسید.

قابل یادآوری است که کار ساخت فابریکه یتیم‌تاق با سرمایه‌گذاری ۱٦۰ میلیون دالر آغاز شده است و ظرفیت تولید روزانه آن ۳۰۰۰ تن سمنت خواهد بود و برای ۵۰۰۰ نفر به طور مستقیم و غیرمستقیم فرصت شغلی ایجاد خواهد کرد.

این جلسه با تلاوت قرآن‌کریم آغاز و دعای خیر پایان یافت.





# د چارو ادارې لوی رئیس د قوش تېپې کانال چارو څخه لیدنه وکړه

یاده لیدنه د چارو ادارې لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور، د دې ادارې د پالیسۍ او ستراتیژۍ رئیس مفتي عبدالواحد عثماني، د پروژو چارو انسجام ریاست سرپرست قاري محمد حسین کوثري او د عامه اقتصاد او زېربناوو رئیس مفتي شمس الرحمن په ملتیا ترسره شوه.

یکشنبه، ۱۴۴۷هـ.ق ذوالقعدې لسمه/۱۴۰۵هـ.ش غوایي اوومه.

د چارو ادارې لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور او ورسره مل پلاوي د قوش تېپې کانال له بېلابېلو برخو لیدنه وکړه او په سیمه کې یې د چارو ادارې لوی ریاست اړوند د روانو چارو له څارونکي تخنیکي ټیم سره هم ولیدل چې په ترڅ کې یې د هغوی ستونزې، وړاندیزونه هم واورېدل او دوی ته یې لازمې سپارښتې وکړې.

د یادونې وړ ده چې د دې سفر په ترڅ کې به له نورو پروژو څخه هم لیدنې ترسره شي.

# رئیس عمومی اداره امور و هیئت همراهش

## از فابریکه سمنت غوری دیدن کردند

۱۱ ذوالقعده ۱٤٤۷ هـ.ق/هشتم ثور ۱٤۰۵ هـ.ش

شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور با هیئت همراهش در جریان سفر به ولایت بغلان، از روند کارهای ساختمانی و پیشرفت‌های فابریکه سمنت غوری مربوط شرکت انکشاف ملی دیدن کردند و از تلاش‌های مسئوولین این شرکت در زمینه خودکفایی ستایش نمودند.

قابل یادآوری است که در این دیدار انجنیر عبدالرحمن عطاش، رئیس شرکت انکشاف ملی نیز حضور داشت و درباره فعالیت‌های آینده فابریکه معلومات ارائه کرد که به گفته وی، افزایش تولید سمنت در کشور نقش مهم در رشد اقتصادی و تقویت تولیدات داخلی ایفاء خواهد کرد.





# د چارو ادارې عمومي رياست د دوو

## ملکيتونوافر پرانېسته ترسره شوه

د چارو ادارې عمومي رياست د وزيرانو شوراء او عالي کمېسيونونو چارو د انسجام او خصوصي سکتور ته د يادې ادارې د ملکيتونو په قرارداد ورکړې کمېټې رئيس، مولوي محمد صادق عاکف په مشرۍ د دوو ملکيتونو د افر پرانيستې غونډه ترسره شوه.

چهارشنبه، ۱۴۴۷ هـ.ق ذوالقعدې ۱۹مه/۱۴۰۵ هـ.ش غوايي ۱۶مه.

ياده غونډه په غزني ولايت کې د اسلامي ثقافت مرکز اړوند د ۴۳ بابو بارکونو او د جلال‌اباد ښار شهيد معلم اول گل ورزشي لوبغالي دننه پياده‌رو د اجارې ورکولو په موخه، د يادې کمېټې د غړو او داوطلبو شرکتونو د استازو په شتون کې د چارو ادارې عمومي رياست د غونډو په تالار کې ترسره شوه.

مولوي محمد صادق عاکف د افر پرانيستې په غونډه کې د يادې پروسې د شفافيت په اړه گډونوالو ته ډاډ ورکړ او په وينا يې چې د قراردادونو افر پرانيسته به د ټولو شرکتونو د استازو په حضور کې ترسره کېږي او د هېچا حق به پکې ضايع نه شي.

نوموړي همدارنگه وويل چې د افغانستان اسلامي امارت ټولې ادارې له سمتي او نورو هر ډول تعصبونو پاکې دي او په کې د يووالي روحيه حاکمه ده او هر نظام چې دا ډول فکر ولري، بې له شکه پرمختگ کوي او خپلو موخو ته رسېږي.

# رئیس عمومی اداره امور در نشست

## تدوین پلان ستراتیژیک پوهنتون

## پولی تخنیک کابل اشتراک کرد

شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان در نشست تدوین پلان ستراتیژیک پنج‌ساله پوهنتون پولی تخنیک کابل اشتراک و سخنرانی نمود.

دوشنبه، ۱۷ ذوالقعده ۱٤٤۷ هـ.ق / ۱٤ ثور ۱٤۰۵ هـ.ش

رئیس عمومی اداره امور در این نشست گفت: پلان ستراتیژیک پنج‌ساله برای نهادی تحصیلی تدوین می‌شود که در کشور جایگاه مهم و کلیدی دارد. وی افزود که این روند در حالی انجام می‌شود که تمام نهادهای کشور به‌دلیل مشکلات چند دهه گذشته، آسیب دیده‌اند و برای تقویت و بازسازی آن‌ها تلاش‌های جدی، تعهد و کار دوامدار لازم است.

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور، همچنان در سخنان خویش گفت: جای خوشحالی است که ما در مرحله‌ای متفاوت قرار داریم؛ در گذشته برای چندین دهه فضای ویرانی و رقابت‌های منفی حاکم بود، اما اکنون الحمدلله در تمام بخش‌های نظام رقابت سالم جریان دارد که هر گام باعث افزایش امید و خوشحالی مردم می‌شود.

این نشست با تلاوت قرآن‌کریم آغاز و دعای خیر پایان یافت.





# د ۱۴۰۵هـ.ش کال بودجې د تطبیق

## څرنګوالي اړوند ناسته ترسره شوه

د چارو اداري عمومي ریاست د غونډو په تالار کې د مالي او اداري مرستیال مولوي سیدحسن شاه‌اغا په مشرۍ او یو شمیر رئیسانو او مسؤولینو په ګډون د ۱۴۰۵هـ.ش کال بودجې د تطبیق څرنګوالي او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکمونو مطابق او مصرف په موخه ناسته ترسره شوه.

شنبه، ۱۴۴۷هـ.ق ذوالقعدې ۲۲مه/۱۴۰۵هـ.ش غوایي ۱۹مه.

د غونډې په پیل کې د چارو اداري عمومي ریاست مالي او اداري مرستیال مولوي سیدحسن شاه‌اغا وویل؛ افغانان غربت ځپلي خلک دي، لسګونه کلونه یې په فقر او مشکلاتو کې تیر کړي دي؛ موږ ته پکار ده چې د دوی ستونزې او غوښتنې واورو او د حل په موخه یې اقدام وکړو.

نوموړي زیاته کړه؛ د بیت‌المال ساتنه او د هغه په لګښت کې احتیاط د ټولو ګډ مسؤولیت دی. هېڅوک حق نه لري چې د خپل شخصي نظر او خوښې له مخې پکې تصرف وکړي؛ ځکه له بیت‌المال سره خیانت ستر جرم بلل کېږي او دا کار د دنیا او اخرت د رسوایۍ سبب ګرځي.

د غونډې په جریان کې د مالي ریاست تخنیکي ټیم له لوري جوړ شوی پرېزنټېشن وړاندې شو چې پکې عمومي احکام، د تطبیق اصولنامه، مقررې، مقروضیت، د عقودو قانون او د مصرف پر ټولو تخنیکي لارو چارو بحث وشو او له ګډونوالو وغوښتل شول چې د بودجې مطابق دې خپلې چارې تنظیم کړي.

یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوې وه؛ د خیر په دعاء سره پای ته ورسېده.

## مراسم افتتاحیه تکمیل کارهای باقیمانده ۱٤٦

# اپارتمان شهرک رهایشی

## استقلال برگزار شد

شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور، مولوی نجیب الله حیات حقانی وزیر شهرسازی و مسکن، ملا محمد ناصر آخوند وزیر مالیه و شماری از مسئوولین دیگر در مراسم افتتاحیه تکمیل کارهای باقیمانده ۱٤٦ اپارتمان شهرک رهایشی استقلال در شهر کابل اشتراک و سخنرانی کردند.

۲٤ ذوالقعده ۱٤٤۷ هـ.ق / ۲۱ ثور ۱٤۰۵ هـ.ش

رئیس عمومی اداره امور در این مراسم گفت: جای خوشحالی است که کشور ما پس از چند دهه نابسامانی‌ها اکنون به دلیل امنیت و نظام با کفایت بسوی بازسازی و آبادی قرار دارد. رهبری امارت اسلامی این ضرورت را درک نموده که با تلاش و حمایت امارت، زمینه مناسب برای فعالیت‌های عمرانی در کشور فراهم شده است.

رئیس عمومی اداره امور در مورد سهولت جوازهای ساختمانی و روند اداری آن اطمینان داد و افزود: تلاش می‌شود که امور اداری آسانتر و سریعتر شده و هماهنگی میان نهادهای مربوط بیشتر شود تا به مشکلات مردم در زمان مناسب رسیدگی شود.

همچنان وی از مردم خواست تا به مهاجرین بازگشته به اندازه توان کمک نمایند و از افزایش غیر موجه قیمت مواد ساختمانی خودداری ورزند.

این مراسم که با تلاوت قرآن‌کریم آغاز شده بود با دعای خیر پایان یافت.






## په امارتي ادارو کې د مرکزي او ولايتي رئيسانو د اجرااتو ارزونه ترسره شوه

د رياست الوزراء محترم مقام د (١٥٤) ګڼه حکم د تطبيق په موخه، د چارو اداري عمومي رياست د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو رياست اړوند د ملکي خدمتونو رياست کارپوهانو له لوري په ١٤ بېلابېلو امارتي ادارو کې د (٤٠) تنه مرکزي او ولايتي رئيسانو د اجرااتو ارزونه ترسره شوه.

په ياده ارزونه کې د خپلو مستقيمو امرينو له لوري د رئيسانو کاري پلانونه او ګزارشونه په هر اړخيز ډول و څېړل شول او د رئيسانو اداري وړتياوو، د خدماتو وړاندې کولو کيفيت، د خلکو د ستونزو حل، په ښه توګه د کاري پلانونو د تطبيق او ورځنيو چارو د پرمختګ برخه کې اصلاحي سپارښتنې هم وشوې.

د ملکي خدمتونو کارکوونکو د اجرااتو ارزونې موخه، د کارکوونکو د اجرااتو ارزونې بهير چټکتيا او معياري کول، د عدالت او روڼتيا ساتنه او د ظرفيتونو پېژندنه دی.



# هیئت مطبوعاتی اداره امور
## با والی بغلان دیدار و گفتگو کرد

هیئت مطبوعاتی ریاست عمومی اداره امور به سرپرستی مولوی امین‌الله جیلانی، معاون ریاست مطبوعات این اداره در سفر به ولایت بغلان با مولوی عبدالله مختار، والی این ولایت به منظور آگاهی‌دهی از فرمان شماره ۱۷ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی دیدار و گفتگو کرد.

شنبه (۲۹ ذوالقعد/۲۶ثور)

این نشست که در مقر مقام ولایت بغلان صورت گرفت در آن پیرامون برنامه‌های آگاهی‌دهی فرمان شماره ۱۷ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی به منظور جلوگیری از رسم و رواج‌های نادرست در مرکز شهر و ولسوالی‌های ولایت بغلان بحث صورت گرفت.

در این دیدار، معاون مطبوعات اداره امور بر بلند بردن آگاهی عامه در باره فرمان شماره ۱۷ در ولایت بغلان تأکید کرد و افزود: به هدف آگاهی بهتر مردم پیام‌های این فرمان در قالب ده‌ها بلبورد در نقاط مختلف شهر پلخمری و ولسوالی‌های این ولایت نصب گردیده است و نشست های مردمی همچنان ادامه دارد.

از سوی دیگر مولوی عبدالله مختار، والی بغلان با استقبال از حضور تیم مطبوعاتی ریاست عمومی اداره امور در این ولایت گفت که آگاهی‌دهی از فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی مسؤولیت اساسی ما است و تأکید کرد که در این زمینه آماده هرگونه همکاری می‌باشد.

# ورځنۍ د عقيدې مسئله

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې عمومي رياست
د مطبوعاتو رياست

د مسلمان **عقيده**
١٤١

«وَالتَّعَمُّقُ وَ النَّظَرُ فِيْ ذلِكَ ذرِيْعَةُ الخِذلانِ، وَسُلَّمُ الْحِرْمَانِ، وَدَرَجَةُ الطُّغْيَانِ». [متن العقيدة الطحاوية: ٤٨].

**ژباړه:** «او په دې باب (قدر) کې ژورې څېړنې او ډېر فکر کول، د بې برخې کېدو لامل، د محروميت زينه او د سرکشۍ درجه ده».

www.aop.gov.af

## حديث روز

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې عمومي رياست
د مطبوعاتو رياست

روز **حديث**
٤٣٩

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ ـ رضي الله عنها ـ أَنَّ النَّبِيَّ ـ ﷺ ـ قَالَ:

«إِذَا دَخَلَتِ الْعَشْرُ، وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ، فَلَا يَمَسَّ مِنْ شَعَرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا». [صحيح مسلم: ٣/ ١٥٦٥، رقم الحديث: ١٩٧٧].

**ترجمه:** از ام سلمه رضي الله عنها روايت است كه رسول الله ﷺ فرمود: «هنگامی كه ده روز اول ذی‌الحجه آغاز شود و كسی از شما قصد قربانی داشته باشد، نبايد موهايش، (به اساس يک روايت، ناخن‌هايش) و پوستش را بگيرد، (تا وقتی كه قربانی خود را انجام ندهد)».

“ ”

اسلامي امارت د خلکو لپاره یو نعمت دی او په ټولو برخو کې یې متوازن پرمختګ کړی دی.
اسلامي امارت په هېواد کې امن راوستی، چې له امله یې علم ته ښه زمینه برابره شوې ده.
هېوادوال باید خپل ماشومان د علم زده کړې ته واستوي.

شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور
د چارو ادارې لوی رئیس

aop.gov.af